# دهقان

هفته‌نامه

هفته‌نامه دهقان ▪ شماره یکصدوبیست‌ویکم ▪ شنبه ▪ ۲۹ قوس ▪ ۱۳۹۹


**معياري کرنه؛ نړيوال بازارته لاس رسی**

**زراعت معیاری؛ دستیابی به بازار جهانی**



## دهقان بامیانی پس از این درآمد خوبی از کشت کچالو به دست می‌آورَد

۳

### د خصوصي سکتور د پراختيا رياست او بازارموندني پروژې سره د کرنې وزير غونډه؛ د کرنيزو محصولاتو بازارموندنې او د کرنې په سکتور کې د پانګونې پر جذبولو خبرې اترې



۳

### ربيس يا د ليوني سپي ناروغي

۶

### غزني او کندهار کې د الوبخاراوو د توليد کچه لوړه شوې



۵



## د کرنې وزير په افغانستان کې د کرنې د پراختيا نړيوال صندوق د برنامو له رييس سره، د کرنيزو پروژو د پلي کېدو پر څرنګوالي خبرې وکړې

د کرنـې، اوبولګولـو او مالـدارۍ وزيـر ډاکټـر انوارالحـق احـدي د افغانسـتان پـه برخـه کـې د کرنـې د پراختيـا نړيـوال صنـدوق مشرتابـه او د برنامـو رييـس سره د ويډيـو کنفرانـس لـه لارې ددې صنـدوق د تـر چترلانـدې پـروژو پـر فعاليتونـو خـبرې وکـړې.

پـه دې ناسـته کـې، د خلکـو پـه ګـډون دکرنـې او مالـدارۍ پـروژې «CLAP» او لـه دويـم ملـي لومړيتـوب څخـه د ملاتـړ پـروژې «SNaPP۲» رييسـانو هـم شـتون درلـود.

د کرنـې د پراختيـا نړيـوال صنـدوق، د خلکـو پـه ګـډون دکرنـې او مالـدارۍ پـروژې «CLAP» او لـه دويـم ملـي لومړيتـوب څخـه د ملاتـړ پـروژې «SNaPP۲ لـه تمويـل کوونکـو څخـه دی.پـه افغانسـتان کـې د کرنـې د پراختيـا د نړيـوال صنـدوق د برنامـو رييـس چنـډرا سـميکټو «Candra Samekto»د کرنـې لـه وزيـر څخـه پـه مننـې سره، د يـادو دوو پـروژو د ملاتـړ پـه پـار ددغـو پـروژو پـر لاسـته راوړنـو، کړنـو او پلانونـو خـبرې وکـړې.

ښـاغلی سـميکټو وويـل، د کويډ ۱۹ لـه سـتونزو سره سره، د يـادو دوو پـروژو چـارې پـه سـمه توګـه پرمـخ تللـې دي، هغـه هيلـه لـري چـې يـادې پـروژې پـه ښـه ډول او پـر خپـل وقـت پلـي شي.

هغـه يـووار بيـا وويـل، چـې يـاد صنـدوق بـه د يـادو پـروژو ملاتـړ کـوي. ډاکټـر انوارالحـق احـدي دکرنـې پـه برخـه کـې ددې صنـدوق لـه مرسـتو څخـه د مننـې ترڅنـګ، ډاډ ورکـړ چـې د يـادو پـروژو فعاليتونـه او برنامـې مثبتـې دي هغـه زياتـه کـړه، ډاډ مـن دی چـې د يـادو پـروژو ګټـورې کړنـې زياتيـږي.

ښـاغلی احـدي دغـه راز وويـل، خلکـو تـه د لا اغېزمنـو چوپړتيـاوو وړانـدې کولـو پـه پـار اړتيـا ده، چـې د خلکـو پـه ګـډون دکرنـې او مالـدارۍ پـروژه«CLAP» او لـه دويـم ملـي لومړيتـوب څخـه د ملاتـړ پـروژه «SNaPP۲د خپلـو چوپړتياوو لمـن پراخـه او نـورو ولايتونـو تـه يـې هـم وغځـوي.

## گپ دهقان

# پرورش منبع حیات

ریشه‌ی زنده‌گی نام بنهیم، درخت است. این ریشه هر قدر ضعیف‌تر و ناتوان‌تر شود، ما و همه‌ی انسان‌ها را ضعیف‌تر و ناتوان‌تر می‌کند و نسل‌های پس از ما را به آغوش نیستی می‌کشانَد. گذشته‌گان تا این دم، زنده‌گی و طبیعت و فضای کنونی را به ما به امانت گذاشتند و حالا این ما هستیم که باید آن را خراب نکنیم و چه بهتر که خوب‌تر از گذشته بسازیمش به آینده‌گان بسپاریمش.

برای این کار لازم است که از درختان همواره مراقبت و نگهداری کنیم. از درختان به عنوان ابزار استفاده نکنیم. درختان وظایفی را که خودشان دارند، اجرا می‌کنند؛ نیازی نیست که ما از آن‌ها بهره‌ی بیش‌تر و اضافی بکشیم و تضعیف‌شان کنیم. درخت، تولید اکسیجن می‌کند، آلوده‌گی‌های محیط و هوا را کاهش می‌دهد، بادهای آلوده را دفع می‌کند، برای ما سایه می‌آفریند، کاربن‌دای‌اکساید را جذب می‌کند. دیگر چی کند؟ این کارها، برای ما فرصت‌ها و زمینه‌های کلانی برای زنده‌گی است. پس باید از درخت به عنوان پایه‌ی طناب لباس‌شویی استفاده نکنیم. باید درک داشته باشیم که درخت پایه‌ی برق نیست. درخت، چنان‌که گفتیم، تهیه‌کننده‌ی ماده‌های اولیه‌ی حیات بشر است. بناً اگر درخت زبان ندارد، ما زبان داریم و این را به هم‌دیگر باید بگوییم که با درختان چگونه رفتار کنند.

به کودکان‌مان بیاموزیم که به جای کندن نهال‌ها و شاخچه‌ها، از آبیاری و نگهداری آن‌ها لذت ببرند. جلوگیری از انداختن پلاستیک و دیگر بازمانده‌های مضر در کنج و کنار و برگ‌وشاخ درختان کار نادرست و بی‌رحمانه‌ای است و می‌تواند برای درختان مضر باشد.

همه‌ی کسانی که حیاط و حویلی خرد و یا کلانی که دارند، آن را نهال بنشانند. این روش، اصلی‌ترین کاری است که باید برای بقای حیات صورت بگیرد. آلوده نساختن هوا، افزایش و ذخیره‌سازی آب‌های زیرزمینی با ساخت زمینه‌ی جذب برق توسط زمین، جلوگیری از آلوده‌شدن محیط، از کارهایی نیستند که دیگران باید انجامش بدهند. این کار همه‌گانی است. این وظیفه‌ی منی که این متن را می‌نویسم و شمایی که این متن را می‌خوانید است. از خودمان و خانواده‌ی‌مان برای آوردن تغییر در روش برخوردمان با طبیعت آغاز کنیم. این تغییر را با نگهداری طبیعت، مراقبت از درختان، نهال‌شانی و محبت دادن به طبیعت، آن‌قدر تمرین کنیم که به عادت‌مان بدل شود.

اگر این مراحل را مد نظر نگیریم، اگر همین طور به آلوده‌سازی محیط ادامه بدهیم و اگر همین طور هیچ تغییری در رفتار خودمان نیاوریم، باید بدانیم و بپذیریم که به نسل‌های آینده، پسران، نواسه‌ها و نسل‌های بعد از آن‌ها، دوزخی را به جای زمین و وطن، به میراث می‌گذاریم که مسلماً مایه‌ی شرم‌ساری‌مان خواهد بود.

# ارغستان کې دبابو بند رغنيزې چارې بشپړې شوې

دکندهار د ارغستان په ولسوالۍ کې دبابو بند رغنيزې چارې بشپړ شوي دي. ددې بند رغنيزې چارې تېرکال دغبرګولي په مياشت کې د اته ميليونه او۴۳۶زره او ۸۷افغانيو په لګښت دکرنې وزارت دپراختيايي بوديجې له لارې پيل شوې وې. دکندهار ولايت دکرنې رييس حفيظ الله سيدي وايي، چې ياد بند د ۱۲۶ زره متر مکعب اوبو وړتيا لري او په جوړېدو سره يې، څه باندې لس زره جريبه ځمکه دخړوبولو تر پوښښ لاندې راغلي دي. هغه وويل، چې ددې بند جوړول دځمکې لاندې داوبو پياوړتيا، دخاورې دتخريب مخنيوی، دسېلابونو کنټرول، دسيمې سمسورتيا او دمالدارانو دڅښاک اوبو په چمتوکولو کې مرسته کوي. دکندهار دکرنې رييس وايي، چې په وروستيو دوو کلونو کې د ارغستان ولسوالۍ په بېلابېلو سيمو کې داوبو لګولو ۸۳ لويې او وړې پروژې پلي کړي دي.



# تخار کې دڅارويو دمصنوعي القاح دمرکز رغنيزې چارې بشپړې شوې

دتخار په ولايت کې دڅارويو دمصنوعي القاح دمرکز رغنيزې چارې بشپړې شوي دي.

ياد مرکز د يوميليون او۴۰٦زره افغانيو په لګښت دکرنې وزارت دپراختيايي بوديجې له لارې جوړ شوی دی.

دغه ودانۍ چې دتخار ولايت دکرنې رياست دمالدارۍ او حيواني روغتيا د آمريت په انګړ کې جوړه شوې ده څلور کاري خونې لري.

ددې مرکز رغنيزې چارې دروان کال په لومړيو کې پيل شوې وې.



# دیوار احاطه‌ی باغ ذخیره‌ی مزدشت در تخار به بهره‌برداری سپرده شد

ریاست زراعت، آبیاری و مالداری ولایت تخار، کار ساخت دیوار احاطه‌ی باغ ذخیره مزدشت واقع در ولسوالی ورسج ولایت تخار را تکمیل کرد. این دیوار، رسماً توسط والی تخار به بهره‌برداری سپرده شد.

در افتتاح بهره‌برداری از این دیوار، مولوی عبدالله قرلق والی و مسوولان اداره‌های محلی تخار، نماینده‌گان شورای ولایتی، شوراهای انکشافی و شهروندان حضور یافتند.

کار ساخت این دیوار که در پنجم اسد امسال، از جانب ریاست زراعت تخار و توسط شرکت ساختمانی «تخارگرین» آغاز گردید و دیروز رسماً به پایان رسید. مساحت باغ ذخیره‌ی مزدشت ۱۲۹ جریب زمین است و دیوار یادشده، با طول ۴.۵ کیلومتر ساخته شده که باغ یادشده را احاطه کرده است.

در ساخت این دیوار، ۲۳ میلیون و ۸۷ هزار و ۳۲۸ افغانی، از بودجه‌ی انکشافی وزارت زراعت



# نيمروز کې مېرمنو لپاره ۲۵وړې شنې خونې جوړېږي

د کرنې، اوبولګولو اومالدارۍ وزارت د بڼوالۍ او مالدارۍ ملي پروژې«NHLP» له لارې د ژمي په موسم کې د سبو توليد په پار د نيمروز ولايت يوشمېر مېرمنو ته ۲۵ وړې شنې خونې جوړوي.

دغه شنې خونې، د کرنې وزارت د پراختيا يي بوديجې له لارې د نيمروز ولايت په مرکز زرنج او ددې ولايت په خاشرود ولسوالۍ کې ۲۵ مېرمنو ته جوړېږي.

د يادو شنوخونو ترڅنګ پر دغو مېرمنو د بېلابېلو سبو تخمونه هم وېشل کيږي او همداراز دغو مېرمنو ته په شنوخونو کې د سبو کرکېلې او پالنې لارې چارې هم ښودل کيږي.

له څو کلونو را په دې خوا په نيمروز ولايت کې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د بڼوالۍ اومالدارۍ ملي پروژې له خوا د وړو شنوخونو د وېش لړۍ پيل شوې د ه، چې ښې پايلې لري.

يو شمېر هغو مېرمنو، چې په تېروکلونو کې يې شنې خونې تر لاسه کړې دي وايي؛ د ژمي په موسم کې چې په بازار کې سابه او ترکاری نه وي د خپلو کورنيو د اړتيا وړ سابه او ترکاري له خپلو شنوخونو څخه تر لاسه کوي او يوه برخه يې په بازار کې هم خرڅوي او دکور لګښتونه پرې پوره کوي.

له کومه ځايه چې سابه د سالمې تغذيې ډېره مهمه سرچينه ده، د کرنې وزارت د کورنيو د سالمې تغذيې په پار او مېرمنو لپاره د دندې ايجادولو په موخه هر کال په ټول هېواد کې مېرمنو ته سلګونه وړې او لويې شنې خونې جوړوي.



# دهقان بامیانی پس از این درآمد خوبی از کشت کچالو به دست می‌آورَد



نعیم رضایی
گزارش‌گر

با تکمیل شدن کار ساخت ذخیره‌گاه‌های جدید کچالو در ولایت بامیان، یک دهقان در این ولایت می‌گوید: «در اول خزان کچالوی مرا سیر ۸۰ افغانی هم نمی‌خریدند، حالا هر سیر کچالو را به ۱۱۰ افغانی می‌خرند، ولی تا حال نفروختیم.»

ولایت بامیان مشهور به گدام کچالو و مرکز کشت و برداشت گونه‌های اصلاح‌شده کچالو در کشور می‌باشد. بر اساس آمارهای احصاییه وزارت زراعت، بامیان سالانه حدود ۵۰ درصد کچالوی مورد نیاز کشور را تامین می‌کند. دهقانان این ولایت اما از نبود ذخیره‌گاه کچالو شکایت داشتند به همین منظور وزارت زراعت، آبیاری و مالداری در سال جاری برای حمایت از دهقانان و هم‌چنان جلوگیری از فرسوده شدن محصولات زراعتی، برنامه مدیریت محصولات زراعتی راه انداخت و از طریق آن ۲۹۵ ذخیره‌گاه جدید کچالو در بامیان ساخت. کار ساخت، تمام این ذخیره‌خانه‌ها تکمیل شده است.

عبدالوهاب محمدی رییس زراعت این ولایت می‌گوید: «کار اعمار تمام ذخیره‌گاه‌های صفر انرژی کچالو در این ولایت تکمیل شده است و دهقانان ولایت بامیان بهره‌گیری از این ذخیره‌خانه‌ها را شروع کرده‌اند.»

ذبیح‌الله باشنده قریه سیدآباد مرکز ولایت بامیان یکی از مستفیدشونده‌گان این ذخیره‌گاه‌ها می‌گوید: «امسال من چهار جریب زمین را کچالو کشت کرده بودم، از این چهار جریب در حدود ۳۰۰ بوجی که هر بوجی ۱۳ سیر می‌آمد حاصل گرفتم.» وی می گوید قبل از ساخت ذخیره‌گاه، کچالو را هنگام برداشت حاصل در مزرعه به نرخ بسیار پایین به فروش می‌رساند، اما حالا می‌تواند آن را نگهداری کرده و به فرصت مناسب به فروش برساند. او می‌افزاید: «قبلاً به خاطری که کچالو زیاد کشت می‌کردم و ترس این را داشتم که کچالو فرسوده نشود، سر زمین کچالو را به قیمت پایین به فروش می‌رساندم. اما، امسال وزارت زراعت، برای ما ذخیره‌گاه کچالو ساخته است، امسال نرخ‌ها هم پایین بود من کچالو خود را با دل‌جمع آوردم و در ذخیره‌گاه، ذخیره کردم تا نرخ‌ها بلند برود و به بازار به فروش برسانم. در اول خزان کچالو مرا به ۸۰ افغانی هم نمی‌خرید، حالا هر سیرش را به ۱۱۰ افغانی می‌خرند، ولی تا حال نفروختیم.»



اسماعیل یک دهقان دیگر بامیانی نیز می‌گوید که سالانه ۵۰۰ سیر کچالو کشت می‌کند. او گفت: «زمین‌های زیاد زراعتی داریم، به خاطر کمبود آب اکثر زمین‌های ما بدون کشت می‌ماند، باآنهم سالانه ۵۰۰ سیر کچالو کشت می‌کنیم، و از این مقدار تخم کچالو در حدود چهار هزار سیر کچالو حاصل می‌گیرم.» وی افزود: «وقتی حاصلات کچالو را جمع‌آوری می‌کنیم، به هر صورتش به قیمت روز به فروش می‌رسانیم و مشکل جدی که من داشتم، این بود که تخم کچالو را تا بهار سال نگهداری کرده نمی‌توانستم، من سالانه تا ۵۰۰ سیر کچالو را برای تخم نگهداری می‌کنم، قبل از ایجاد سردخانه، تخم را برای این‌که تا بهار سال سالم بماند، زمین را حفر می‌کردم و خاک را بالایش می‌انداختم، زیر زمین می‌ماندم، بهار سال تقریباً از نصف بیش‌تر فرسوده می‌شد و به ما ضرر زیادی وارد می‌کرد.»

اسماعیل می‌گوید با ایجاد ذخیره‌گاه کچالو، در سال آینده تصمیم دارد دو برابر بیش‌تر در مقایسه با امسال کچالو کشت کند.

بر اساس آمار ریاست زراعت، آبیاری و مالداری ولایت بامیان، در این ولایت سالانه حدود ۳۵۰ الی ۳۸۰ هزار متریک تُن کچالو تولید می‌گردد که با ساخت ذخیره‌گاه‌های جدید کچالو از طریق برنامه مدیریت محصولات زراعتی و ذخیره‌گاه‌هایی که قبلاً ساخته شده، حدود ۲۵ درصد از کچالوی بامیان ذخیره می‌شود.

# د خصوصي سکتور د پراختیا ریاست او بازارموندنې پروژې سره د کرنې وزیر غونډه؛ د کرنیزو محصولاتو بازارموندنې او د کرنې په سکتور کې د پانګونې پر جذبولو خبرې اترې

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزیر انوارالحق احدي په شتون کې، د کرنیزو محصولاتو د بازارموندنې پروژې او د خصوصي سکتور د پراختیا ریاست له چارواکو سره، د یادو برخو د فعالیتونو او راتلونکو برنامو په هکله د کرنې وزیر په دفتر کې غونډه په لاره واچول شوه.

ددې غونډې په پیل کې، د کرنې وزارت د خصوصي سکتور د پراختیا رییس حبیب الله حبیبي، ددې ریاست د لاسته راوړنو، فعالیتونو او راتلونکو برنامو په هکله د کرنې وزیر ته مالومات وړاندې کړه. ښاغلی حبیب وویل، چې د خصوصي سکتور په همغږۍ پنځه نړیوال نندارتونونه په لاره اچول شوي دي، چې له بهرنیو نندارتونونو څخه د هېواد د کرنیزو محصولاتو سوداګرو ته د ۲۳۵ میلیونه ډالرو په ارزښت قراردادونه او له درو ملي نندارتونونو څخه د ۲۳۴ میلیونه افغانیو په ارزښت قراردادونه تر لاسه شوي دي.  د خصوصي سکتور د پراختیا رییس دغه راز زیاته کړه، چې د کرنې په سکتور کې تر دې دمه ۷۶۲ کرنیز شرکتونه جوړ شوي، چې ددغو شرکتونو د پانګونې لومړنۍ کچه څه باندې اته میلیارډه افغانۍ ده. هغه وویل، چې د کرنې وزارت تر دې دمه توانېدلی دی، چې د نړیوال سوداګرېزې اداري ۹۰ سلنه ژمنې پلي کړي. حبیبي وویل، چې کرنیزې ټولنې جوړې شوي دي او دکرنې او مالدارۍ په سکتور کې د پانګونې ۱۹ فرصتونه پېژندل شوي او ټاکل شوې، چې راتلونکی کال د دوو ملي نندارتونونو سربېره د هېواد په اوو زونونو کې اووه نندارتونونه او دغه راز د کرنې په سکتور کې پنځه نړیوال نندارتونونه په لاره واچول شي.

ښاغلی حبیبي د شېدې د پروسس له فابریکو سره د ختیځو سیمو د شېدو تولیدوونکو د نښلولو خبره وکړه او ویې ویل، چې پر بنسټ یې د هېواد له ختیځ څخه د اوونۍ ۱۰ زره لیټره شېدې د امید بهار د پروسس فابریکې ته لېږدول کیږي. د خصوصي سکتور د پارختیا رییس وویل، چې د چایو پر سپینوونکو د تعرفې په لوړولو سره دوی توانېدلي دي، چې  د کورنیو شېدو د تقاضا کچه لوړ کړي.



تر هغه وروسته، د کرنیزو محصولاتو د بازارموندنې د پروژې رییس، الن سفري، د پرزنټیشن په وړاندې کولو سره وویل، چې د دوی پروژه تر ۲۰۲۳ کال پورې فعالیت لري او پر درو اساسي برخو تولید، بازارموندنه او سوداګریزو اسانتیاوو برخو کې کار کوي.

د کرنیزو محصولاتو د بازار موندنې پروژه، د امریکا د متحده ایالاتو د نړېوالې پراختیایي ادارې له خوا ملاتړ کیږي.

د کرنیزو محصولاتو د بازارموندنې د پروژې رییس وویل، چې یاده پروژه د خپلو درو کاري برخو لپاره پنځه استراتېژۍ تعقیبوي، چې په کې کرنیزو محصولاتو صادراتو زیاتوالي ته زمینه برابرول، د بېلابېلو کرنیزو محصولاتو زیاتوالی، افغان صادرروونکو ته د نویو بهرنیو بازارونو پراختیا، د کرنیزو محصولاتو ارزښت لوړول او په هغو ۲۹ ولسوالیو کې چې لړ پراختیایي کارونه په کې شوي د تولید د کچې لوړل شامل دي.

تر هغه وروسته، د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزیر انوارالحق احدي، د خصوصي سکتور د پراختیا رییس د راپور له وړاندې کولو څخه د مننې ترڅنګ وویل، چې د بزګرانو د لاپیاوړتیا په پار اړتیا ده، چې بېلابېلې ټولنې جوړې شي، ترڅو دولت ته د تولیدوونکو ډېرشمېر آدرسونه شتون ولري.

ښاغلی احدي وویل، چې د خصوصي سکتور د برنامو اغېزمنتوب باید په بېلابېلو برخو کې لاډېر شي، ترڅو بازارموندنې او پېر-پلور ته لا پراخې زمینې برابرې شي او دغه راز یوشمېر تولیداتو لپاره باید ځانګړې طرحې رامنځته شي.

دغه راز دکرنې وزیر د کرنیزو محصولاتو د بازارموندنې د پروژې رییس د پرزنټیشن او مالوماتو وړاندې کولو څخه مننه وکړه، او ویې ویل، چې باید ددغو فعالیتونو اغېزمنتوب لاډېر شي او پر مارکېټ پانګونه او دغه راز بېلابېلو محصولاتو صادراتو لپاره زمینې لاډېرې شي. د کرنې وزیر د تصدیق ورکولو د سیستم پر جوړولو او د لابراتوارونو پر تجهیز خبرې وکړې او دا یې پرمختللو هېوادونو ته د صادراتو د زیاتوالي په پار اړین وبلل. ښاغلی احدي دغه راز د کرنیزو محصولاتو د بازارموندنې پروژې له رییس څخه وغوښتل، چې خپل د ۲۰۲۱ ام کال د عمل پلان له ده سره شریک کړي تر څو په ګډه لا اغېزناکې پرنامې عملي شي



## «د زغرو او کونځلو د حاصلاتو زیاتوالي»؛
# فاریاب کې د ورځې درې تر څلور ټنه تېل تولیدېږي

راپور: درخشان صدیقي
ژباړه: جمعه گل اشرفي

د فاریاب ولایت دکرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست چارواکي وایي، چې دزغرو او کونځلو د حاصلاتو په زیاتېدو سره، د حاصلاتو په موسم کې د بازار اړتیا ته په کتو د فاریاب ولایت د زغرو او کونځلو له تېلي نباتاتو څخه د ورځې درې تر څلور ټنه غوړي تولید او بازار ته وړاندې کېږي. یاد چارواکي وایي، چې د زغرو او کونځلو د پروسس د ماشینونو د تولید وړتیا د ورځې لس ټنه ده، خو یاد ماشینونه د بازار اړتیا ته په کتو د ورځې یوازې درې تر څلور ټنه د زغرو او کونځلو غوړي تولیدوي.

په داسې حال کې، چې دکرنې وزارت د احصایې شمېرې ښيي، چې تېرکال د فاریاب ولایت په یوزر او ۶۴۰ هکتاره ځمکه کې کونځلي او په دوه زره او ۴۷۰ هکتاره ځمکه کې زغر کرل شوي وه او په ترتیب سره د فاریاب له کروندو څخه تېرکال یوزر او ۹۶۸ ټنه کونځلي او یوزر او ۹۱۵ ټنه زغر تر لاسه شوي وه، خو د فاریاب دکرنې ریاست چارواکي په خپل ولایت کې د یادو محصولاتو د حاصلاتو د زیاتوالي خبره کوي.

د فاریاب ولایت دکرنې ریاست چارواکي وایي، چې د تېرکال په پرتله ددې ولایت د زغرو او کونځلو د حاصلاتو کچه لوړه شوې ده. دوی د زیاتوالي کچه لس سلنه اټکلوي.

د فاریاب د کرنې ریاست چارواکي وایي، چې دوی داشمېرې له تولیدوونکو او د تېلي نباتاتو له پروسس کوونکو څخه د خبرو اترو او مشاهداتو پر اساس اټکل کړي او راپور ورکوي.



د فاریاب د کرنیزو چارو آمر نوراحمد نور وایي: «د اټکل له مخې سږکال څه باندې پنځه زره ټنه زغر او کونځلي راټول شوي دي، چې په کې څه باندې دوه زره او ۷۰۰ ټنه کونځلي او نږدې دوه زره او ۶۰۰ ټنه زغر شامل دي، چې د تېرکال په پرتله لس سلنه زیاتوالی ښيي.»

د فاریاب ولایت دکرنې ریاست د چاروکو په خبره، سږکال ددې ولایت په شاوخوا دوه زره او ۷۴۰ هکتاره ځمکه کې زغر او په نږدې دوه زره او ۶۰۰ هکتاره ځمکه کې کونځلي کرل شوي وي. دا په داسې حال کې ده، چې د کرنې وزارت د احصایې د شمېرو له مخې تېرکال د فاریاب ولایت په دوه زره او ۷۳۵ هکتاره ځمکه زغر کرل شوي وه، چې له دغو کروندو څخه یوزر او ۹۱۵ متریک ټنه زغر ترلاسه شوي وه.

دغه راز د وزارت د احصایې د شمېرو پر بنسټ، تېرکال د فایاب په یوزر او ۶۴۰ هکتاره ځمکه کونځلي کرل شوي وي، چې له دغو کرندو څخه یوزر او ۹۶۸ ټنه حاصل ترلاسه شوه.

د فاریاب ولایت دکرنیزو چارو آمر زیاته کړه، چې د فاریاب ولایت د زغرو او کونځلو د پروسس ماشینونه د تولید په موسم کې د ورځې د زغرو او کونځلو د لس ټنه غوړیو د تولید وړتیا لري، خو د مارکېټ غوښتنې ته په کتو د ورځې یوازې درې تر څلور ټنه غوړي تولیدوي. د هغه په خبره په دې ولایت کې د زغرو او کونځلو تولید او پروسس په دوه بڼه ترسره کېږي: دودیزه بڼه د څاروېو له قوي څخه په استفادې او له مدرنو ماشینونو په استفادې صنعتي بڼه. د فاریاب د کرنې ریاست چاروکي وايي، چې یاد ریاست د بزګرانو د هڅونې په پار سږکال په څلور جریبه ځمکه کې د تېلي نباتاتو زغر او کونځلو نندارېزې کروندې هم جوړې کړې دي. دغه راز یاد ریاست د یادو تېلي نباتاتو د کرکیلې د لارچارو په هکله ۱۱۳ ځمکوال هم روزلي دي، ترڅو په دې برخه کې اړین مهارتونه ترلاسه او په راتلونکي کلونو کې ښه کیفیت لرونکي او ډېر حاصلات تر لاسه کړي. باید وویل شي، چې له تېلي نباتاتو لکه زغر او کونځلو خالص تولید شوي غوړي، د بازاري غوړیو په پرتله ښه کیفیت لري. دغه راز یاد غوړي د وارداتي غوړیو په پرتله ډېر صحي غوړي دي.



## یکی از عوامل، ساخت ذخیره‌گاه‌ها توسط مدیریت محصولات زراعتی؛
# بهای کچالو مناسب و کیفیتش بهتر شده است

شجاع‌الحق نوری
گزارش‌گر

کچالو در کشور مصرف‌کننده‌گان زیادی دارد و از این محصول زراعتی، در هر فصل به ویژه در فصل سرما بیش‌تر استفاده می‌شود.

کچالو دارای فواید زیادی است و از همه بیش‌تر نشایسته و پروتین دارد. از همین خاطر وجود انسان در زمستان نیاز بیش‌تر به آن دارد.

نتیجه‌ی تلاش‌های وزارت زراعت و دهقانان سبب شده که سالانه از مزارع کچالو ۹۲۱ هزار تُن حاصل برداشته شود. نظر به پیش‌بینی‌ها این رقم امسال افزایش خواهد داشت. در این فصل بازار کچالو در کابل بیش‌تر از هر وقت دیگر گرم و قیمت آن نیز نسبت به سال گذشته مناسب‌تر است. فروشنده‌گان کچالو می‌گویند که در کیفیت و قیمت کچالو نسبت به سال‌های گذشته تغییرات مثبت آمده است و از همین رو مشتریان‌شان زیاد شده و روزانه ده‌ها سیر کچالو را می‌فروشند.

همچنان فروشنده‌گان کچالو و دهقانان می‌گویند اعمار سردخانه‌های کچالو سبب شده تا در قیمت کچالو امسال افزایش رونما شود.

جعفر از باشنده‌های ولسوالی بهسود میدان‌وردک است که در جاده دشت برچی- کوته‌ی سنگی موتر پر از کچالو را آورده و می‌فروشد. او می‌گوید سه سال است که مصروف خرید و فروش کچالو می‌باشد. جعفر گفت: «وضعیت کاروبار کچالو خوب است. نسبت به سال‌های گذشته در قیمت، کیفیت و فروش کچالو بهبود آمده، سابق در همین فصل هر سیر کچالو را ۸۰ افغانی خرید می‌کردیم و ۱۰۰ افغانی می‌فروختیم، اما امسال ۱۲۰ افغانی خرید می‌کنیم و تا ۱۴۰ افغانی می‌فروشیم. سابق کچالو وزنش



کم و اندازه‌اش خورد می‌بود، حالا در وزن و اندازه‌اش هم بهبود آمده و کلان و زیاد شده است.»

جعفر خودش نیز در تولید کچالو نقش دارد و می‌گوید که امسال سه جریب زمین را کچالو کشت کرده بود. او می‌افزاید که در نتیجه‌ی یادگیری روش‌های نوین زراعتی و تلاش‌هایش حالا حاصلات بیش‌تری می‌گیرد. جعفر گفت: «روزانه ۱۰ تا ۱۵ بوجی کچالو می‌فروشم. کچالوی بامیان نسبت به کچالوی دیگر ولایات بهتر است، خرید و فروش کچالوی ولایات غزنی، میدان‌وردک و بامیان کار من است.»

همچنین یک تن دیگر از فروشنده‌گان کچالو در نزدیکی‌های شفاخانه محمدعلی جناح در شهر کابل نیز، از بهبود در کیفیت و قیمت کچالو برای هفته‌نامه دهقان روایت می‌کند. او کچالویی را خریده که تا هفت کیلو وزن داشته است.

سلیمان احمدی از باشنده‌گان میدان‌وردک که ده‌ها بوجی کچالو برای فروش در موترش دارد، می‌گوید: «کچالو را از میدان‌وردک خریدیم، فعلاً هر سیر آن را ۱۴۰ افغانی فروش می‌کنیم. شکر خدا از کار خود راضی هستم، سابق قیمت‌ها متفاوت و در حال تغییر بود، حالا قیمت یکسان و در حال کنترل است.»

به گفته‌ی آقای احمدی، ذخیره‌خانه‌های کچالو که تازه از طرف وزارت زراعت برای مردم ساخته شده نیز در قیمت کچالو تاثیر داشته است. او گفت: «شخص خودم ۲۵۰ بوجی کچالو در سردخانه نگهداری کردم، وقتی قیمت بهتر شد، آورده و می‌فروشم. پارسال سردخانه نداشتیم، در همین وقت ۹۰ افغانی هر سیر کچالو را می‌فروختیم. بعدها قیمت‌ها حتا تا ۲۰۰ افغانی هم رسید. ما از دولت می‌خواهیم که واردات کچالوی ایرانی و پاکستانی را متوقف کند تا کنترل بازار در دست مردم خودمان قرار بگیرد. همچنان می‌خواهیم که ساخت سردخانه‌ها زیاد شود.»

سلیمان احمدی روزانه ۲۰ تا ۳۰ بوجی کچالو می‌فروشد و در این خرید و فروش، ۱۵ تن دیگر نیز با او همکار اند.

سال گذشته در سراسر کشور بیش از ۵۷ هزار هکتار زمین کچالو کشت شده بود. آمار ریاست احصاییه وزارت زراعت نشان می‌دهد که ولایت‌های بامیان، فاریاب، بغلان، تخار، بدخشان، هرات، کابل، پروان، لوگر، میدان‌وردک، پکتیا و غزنی عمده‌ترین تولیدکننده‌گان کچالو در سطح کشور هستند. بامیان بیش‌ترین و بهترین کچالوی افغانستان را تولید می‌کند و خریدار آن نیز در بازار بیش‌تر است.

# د سبو د کرکېلي نوي لارې چارې؛ ننګرهار کې ۴۸۲ شنې خونې جوړې شوې



جمعه‌گل اشرفی
خبریال



د ننګرهار د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست وايي، چې دکرنې وزارت د پرمختيايي برنامو او پروژو له لارې په دې ولایت کې د لوړ ارزښت لرونکو کرنيزو محصولاتو او د سبو او ترکاريو د کرکېلي د نویو لارو چارو دودولو په پار ددې ولایت په کچه ۴۸۲لویې او کوچنۍ شنې خونې جوړې کړې دي.

د ننګرهار د کرنې رييس انعام الله صافی وايي، چې د يادو ۴۲۸ شنوخونو له ډلې ۲۵۳ بابه يې عملاً فعالیت کوي او د مارکېټ غوښتنې ته په کتو رومي بانجان او بېلابېل سابه او ترکاري په کې کرل کيږي.

له تېرو څو میاشتو راهيسې سابه (سبزی) لکه بادرنګ او رومیان چې د ننګرهار په شنو خونو کې راټوکېدلي په دې موسم کې يې حاصل د ښار په نږدې ټولو هټیو کې ليدل کېږي.

یوشمېر ننګرهاریان وايي، د شنو خونو له برکته روان کال کې د رومیانو(ټماټرو) او بادرنګو د حاصلاتو له کمښت سره هم نه دي مخامخ شوي.

د ښاغلي صافی په خبره سږکال له يادو ۲۵۳ شنوخونو نږدې ۸۰۰ مټریک ټنه رومي بانجان راټول او بازار ته وړاندې شوي، چې د تېرکال په پرتله يې حاصلات د پام وړ زیات شوي دي.

له دغو شنوخونو څخه برخمن شوي کروندګر وايي، چې له خپلو شنوخونو څخه په یو کال کې څو ځلې حاصل راټولوي او په لږ خوارۍ سره ډېره ګټه تر لاسه کوي.

په کرنيز سيستم کې له شنو خونو څخه لاسته راغلي حاصلات ګټور، خوندور او په بازار کې هم ډېره ګټه د کروندګرو په برخه کوي.

شنې خونې، چې د حرارت د کنټرول لپاره له پلاستيکه جوړېږي، اوس د ننګرهار د بزګرانو لپاره د سرو زرو د خزانو ارزښت لري. دوی وايي، د شنوخونو په پراختيا سره کولای شي، چې دخپل ولایت د اړتيا وړ سابه تولید او ان د ننګرهار ترڅنګ نورو ولايتونو ته هم وخت په وخت کرنيزې توکي ورسوي.

د کرنې وزارت له خوا دغه شنې خونې په هرموسم کې د تازه سبو د تولید او په لویه کچه د خوړو خونديتوب او په مېندو او ماشومانو کې د خوارځواکۍ د مخنیوي په موخه جوړې شوي دي. دغه شنې خونې کورنیو ته دا زمینه هم برابروي، چې د خپلو سبو د پلور له لارې ښه عوايد تر لاسه کړي.

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت چارواکي وايي، چې هېواد کې د شنو خونو حاصلات مخ په زیاتېدو دي.دوی وايي، چې دمګړۍ د هېواد په ټولو ولايتونو کې په سلګونه وړې او سوداګريزې شنې خونې جوړې شوي دي، چې د کال په ټولو موسمونو کې په کې د ډول ډول سبو او ترکاريو کرکېله کيږي او د بزګرانو دعوايدو په ښې سرچينې بدل شوي دي.

# غزني او کندهار کې د الوبخاراوو د تولید کچه لوړه شوې

نورالله پتمن
خبریال





د غزني او کندهار د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاستونو چارواکي وايي، چې د يادو ولايتونو د الوبخاراوو د حاصلاتو کچه د نورو کلونو په پرتله د پام وړ زیات شوي دي.

د يادو ولايتونو د کرنې رياست چارواکي وايي، چې په دغه ولايتونو کې په زرګونه هکتار ځمکه کې د الوبخاراوو ونې اېښودل شوي دي، چې هرکال ترې زرګونه ټنه الوبخارا تر لاسه کيږي.

د غزنې د کرنې ریاست وايي، چې د غزنې په ولايت کې د الوبخاراوو څلور ډولونه کرل شوي دي، چې تر ټولو نوموتي هغه يې «دل ګنجشک» دی او نړیوال بازار لري. د هغه په خبره، د غزني الوبخارا له هېواده بهر هند، پاکستان، متحده عربي امارات، انګلستان، امریکا او کانادا ته هم صادريږي.

د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د احصايې رياست د ۱۳۹۸يم کال د شمېرو له مخې د افغانستان په يو زرو ۱۴۴ هکتاره ځمکه د الوبخاراوو بڼونه جوړ شوي، چې د تولید کچه يې څه باندې اته زره او ۷۹۰ ټنو ته رسيږي.

د چارواکو په خبره د الوبخاراوو د ډېرښت لاملونه د نويو بڼونو جوړښت او حاصل ته راسېدل، روزنيزې برنامې په لاره اچول، د اړوندو توکو وېش او ښوالو سره د کرنې اداري دوامداره همکارۍ دي.

الوبخارا د کابل، غزني، لوګر، پروان، ارزګان، کندهار، زابل او میدان وردګو په ولايتونو کې توليديږي. کندهار، غزني، کابل، فارياب او ارزګان د الوبخارا له لويو توليدونکو ولايتونو څخه شمېرل کيږي، چې هر کال له يادو ولايتونو څخه په زرګونه مټريک ټنه الوبخارا راټول او بازار ته وړاندې کيږي.

# حاصلات لوبیا در بغلان، تخار و میدان‌وردک افزایش یافته

مسوولان ریاست‌های زراعت ولایت‌های بغلان، تخار و میدان‌وردک می‌گویند، امسال حاصلات لوبیا در این ولایت‌ها افزایش داشته است.

عبدالغیاث صدیقی رییس زراعت بغلان می‌گوید که امسال در این ولایت پنج هزار و ۵۰۰ جریب زمین لوبیا کشت شده بود و از آن ۱۵هزار و ۸٦۲ متریک تُن حاصل برداشته شده است.

آقای صدیقی گفت که امسال در مرکز بغلان و ولسوالی‌های پلخمری، نهرین، دوشی و دهانه‌ی غوری لوبیا کشت شده بود. او تاکید کرد که دهقانان این ولایت، امسال از زمین‌های‌شان دوبار حاصل گرفته‌اند.

ریاست زراعت ولایت تخار نیز، می‌گوید که امسال در این ولایت ۱۰ تا ۱۱ هزار هکتار زمین لوبیا کشت شده بود و حاصل آن به بیش‌تر از ۱٦ هزار متریک تُن رسیده است.

عبدالله تسل رییس زراعت میدان‌وردک هم از افزایش حاصلات لوبیا در این ولایت خبر داده می‌گوید که امسال دوهزار و ۵۰۰ هکتار زمین در این ولایت توسط دهقانان لوبیا کشت شده بود و از هر هکتار آن ۱.۴ متریک تُن حاصل برداشته‌اند. او گفت به طور مجموعی حاصلات لوبیا در میدان‌وردک به بیش‌تر از سه هزار تُن رسیده است.

آقای تسل گفت که بیش‌تر کشت‌زارهای لوبیا در مرکز و ولسوالی‌های چک، سعیدآباد و ولسوالی نرخ این ولایت است.

بر اساس آمارهای ریاست احصاییه وزارت زراعت، سال گذشته در سراسر کشور ۱۲هزار و ۱۹۱ هکتار زمین لوبیا کشت شده و میزان حاصلات آن به ۲۰ هزار و ۲۵۷ متریک تُن رسیده بود. ولایت‌های بغلان، میدان‌وردک و ولایت تخار از تولیدکننده‌گان اصلی لوبیا در کشور هستند. آمار ریاست احصاییه نشان می‌دهد که ولایت بغلان در سال ۱۳۹۸ سه‌هزار هکتار زمین تحت کشت لوبیا قرار داشت و حاصل آن به شش‌هزار تُن رسید.

هم‌چنین میزان کشت لوبیا در میدان‌وردک در سال گذشته به دوهزار و ۴۰۰ هکتار رسیده و از آن سه‌هزار و ۳٦۰ تُن حاصل برداشته شد.

در ولایت تخار نیز یک‌هزار هکتار زمین سال گذشته تحت کشت لوبیا قرار داشته و از آن ۱٦ متریک تُن حاصل گرفته شده است.

راټول کړئ:
ډاکټر حامد نوروز،
د حیواني روغتیا د اخبار وړ حیواني ناروغیو سره د مبارزې مدیر

# ربیس یا د لیوني سپي ناروغي

د ربیس یا لیوني سپي ناروغي درې تر څلور زره کاله مخینه لري. ابوعلي سینا، دا ناروغي له اوبو څخه ډار ترعنوان لاندې معرفي کړې دی. د لیوني سپي ناروغي په نړۍ کې تر ټولو پخوانۍ ناروغي پېژندل شوی دی. په پخواني یونان کې د ربیس ویی «کلمه» د «لزا او یالتها» په نومونو چې د لیونتوب مانا ورکوي کارول شوی دی. د ربیس لاتین ویی د سانسکریټ له پخواني ویی «Rabhas» چې د «تاوتریخوالی» مانا لري اخیستل شوی دی. د لیوني سپي ناروغي یوه ساري ویروسي او زنوز (د انسانانو او حیواناتو ترمنځ ګډه) ناروغي ده، چې د حاد مغزي التهاب لامل کیږي. دا ناروغي په ټولو ګرم وینې لرونکو حیواناتو له ډلې انسانانو کولای شي، چې ناروغي رامنځته کړي. ویروس ددې ناورغي د اخته حیوان د خولې د لاړو د انسان د داړل شوي ځای له لارې بدن ته ننوځي، په عضلاتو کې د آخري عصابو خواته ځي او تکثیر پیلوي. د مبتلا کېدو په صورت کې مړینه حتمي خبره ده، د تاریخ په اوږدو کې یوازې شپږ کسان له دې ناروغي روغ وتلي دي. په ۲۰۰۴ ام کال کې د امریکا متحده ایالاتو په ویسکانسین کې د لیوني سپي له ناورغي څخه د یوې۱۵ کلنې انجلۍ رغېدل لومړنۍ پېښه ده، چې راپور شوې ده. د حیواني روغتیا نړوال سازمان وایي: « د ربیس ناروغي له امله هرکال تر ۷۰ زره ماشومان مړه کیږي.»

په هغه راپور کې، چې په ۲۰۱۵ام کال کې د «د ربیس پر وړاندې نړواله ټولنه» خپره کړې ده، ښیي چې په نړۍ کې دکال ۵۹ زره کسان د سپیو د داړلو له مله په دې ناروغي اخته او خپل ژوند له لاسه ورکوي.

خپرېدل«شیوع»

په ۲۰۱۰ام کال کې نږدې ۲٦ زره کسانو ددې ناروغي له امله مړه شوي دي. په داسې حال کې چې په ۱۹۹۰یم کال کې دا شمېره دوه چنده یعنې ۵۵ زره(۳۱ زره یې په آسیا او ۲۴ زره یې په افریقا) کې وه. په ۲۰۱۵ام کال کې اعلان شو چې ددې ناروغي له امله څه باندې ۵۹ زره کسان مړه شوي دي. په نړۍ کې ډېرشمېر پرمختللي هېوادونه په سپیو کې یاده ناروغي له منځه وړې دي. خو مخ پر ودې هېوادونو کې لاهم دا ناروغي په کورنیو سپیو کې شتون لري. «د ربیس پر وړاندې د نړیوالې ټولنې» راپور وایي، چې دورځې نږدې ۱٦۰ کسان ددې ناروغي له امله خپل ژوند له لاسه ورکوي، چې ٦۰ سلنه یې په آسیا او ۳٦ سلنه یې په افریقا کې رامنځته کیږي. د ربیس ناروغي ۳۵ سلنه یوازې په هند کې رامنځته کیږي، چې د نړۍ په کچه له هر هېواد څخه ډېر دی. د نړۍ په کچه په انسانانو کې ربیس ناروغي څه باندې ۹۹ سلنه د سپیو له لارې لېږدول کیږي خو په امریکا کې ډېری موارد یې په انسانانو کې د ښاپېرلک یا د خفاشونو له لارې لېږدول کیږي او د سپیو له لارې یوازې پنځه سله کسان په دې قاره کې په دې ناروغي اخته کیږي. دربیس ناروغي د نړۍ په نږدې ۱۵۰ هېوادونو کې شتون لري. د اروپا او استرالیا په ډېرو سیمو کې ددې ناروغي ویرویس یوازې په خفاشونو کې دي. په یوشمېر جزایرو کې دا ناروغي له سره شتون نه لري. نږدې ۴۰ سلنه مړه شوي کسان له ۱۵ کالو کم عمر لرونکي دي، چې د داړلو له لارې په دې ناروغي اخته شوي دي. اخته شوي ماشومان هغه ماشومان دي، چې له وېرې پرته په دې ویروس د ککړو سپیو خواتي تللي دي. له کومه ځایه چې ډېری ماشومان د سپیو په واسطه له داړلو وروسته خپل مور او پلار ته د پېښې د وضاحت ورکولو وړتیا نه لري، نړیوال روغتیایي اداره په دې اندېښنه ده، چې د مړینې دقیقه شمېره به له رسمي شمېرو څخه زیات وي.

په سویس کې

د سویس په هېواد کې ډېری کسان د ګېدړو د داړلو له لارې د لیوني سپي په ناروغي اخته کیږي. خو کارپوهانو په مړه شویو چرګانو کې د ربیس ضد ویروس درمل وکارول او په آلپ غرونو کې یې د خوشي کړل او کله چې ګېدړو دا چرګان وخوړل دا ناروغي له منځه ولاړ.

لامل

ددې ناروغي لامل د آران اې لرونکي ویروس، غیر هوازي او نوروتروپ (عصبي سیستم ته لېوالتیا لري) د ویروسونو د رابډو له ډلې او د لیزا ویروس له جنس څخه دی. د ربیس ویروس زیګ او لږمقاومت لرونکی دی او په طبیعت کې دوام نه کوي. کله چې په مرکزي عصبي سیستم برید وکړي، تر ډېره د اخته شوي کس د مړینې لامل کیږي. یاد ویروس په ۵۰ درجې تودوخه کې په ۱۵ دقیقو کې او په ٦۰ درجې تودوخه کې په ۳۵ ثانیو او په ۱۰۰درجې تودوخه کې په څو ثانیو کې له منځه ځي، نو ښه خبره داده، چې د ددې ویروس د اخته شویو توکو د ضدعفوني کولو په پار باید یاد توکي د څو دقیقو لپاره و خوټل شي او با په فینول او الګولو ومینځل شي.

د ناروغي مخازن

ټول ګرم وینې لرونکي وحشي او اهلي حیوانات له دې ناروغي سره حساس دي. په الوتونکو کې یاده ناروغي یوازې په څېړنیزو مرکزونو کې راپور ورکړل شوي دي. الوتونکي، کبان، خزنده ګان او هغه حیوانات چې په وچه او اوبو کې ژوند کې تر ډېره په دې ناروغي نه اخته کیږي. تر ډېره په وحشي حیواناتو او عمدتاً په ښاپېرکو یا خفاشونو او ګیدړو کې دي. دغه راز په اهلي حیواناتو کې شبدې ورکوونکي غواوې د پام وړ اخته کیږي او په آس، وزو، وریو کې لږ



تشخیصیږي. دغه راز په کورنیو حیواناتو کې تر ډېره په پشوګانو او سپیو کې دي.

### د ناروغي د خپرېدا لارې

انسان ته د ربیس د ناروغي د لېږل تر ټولو مهمه لار په دې ویروس د ککړ حیوان داړل دی، چې د داړلو له لارې انسان ته د ربیس ناروغي لېږدي؛ که په دې ویروس د اخته حیوان د خولې او یا پوزې لاړې د پوستکي له ټپ او یا د بدن مخاطي عشا سره تماس پیدا کړي یاده ناروغي انسان ته لېږدي. که چېرې کوم حیوان مو داړي په هغه صورت کې ددې ناروغي د اخته کېدو شونتیا شته چې په حیوان کې یاد ویروس موجود وي او ویروس د حیوان عصبي سیستم او د خولې لاړو سره یوځی شوی وي، دې ته په کتو هره داړل ددې مانا نه لري، چې یاده ناروغي لېږدوي خو له داړلو وروسته د درملنې او مخنیوي اقدامات اړین دي. (په ربیس اخته حیوان، لږترلږه ۱۰ ورځې ژوندي پاته کېدای شي)

### مخنیوی

کوم کسان چې د دندو له امله حیواناتو سره په اړیکه کې دي لکه(دربیس د تشخیص د لابراتوار کارکوونکي، وترنران، ښکاریان، مالداران، د چاپېریال ساتنې کارکوونکي، د مسلخونو کارکوونکي، کوم کسان چې په امنیتي ځواکونو کې د سپیو ښوونې او روزنې دنده پرغاړه لري، کوم کسان چې د څېړنو لپاره غارونو ته ورځي او په ټولیزه توګه کوم کسان، چې ددې شونتیا شته چې حیوانات یې وداړي) باید د ربیس ناروغي پر وړاندې واکسین شي. په یادو خلکو کې د ربیس ناروغي د مخنیوي په پار په دوو پړاوونو کې واکسین پلي کیږي، چې د لومړي پړاو څخه اووه ورځې وروسته بیا پلي کیږي او یاد کسان باید په هرو څلورو کلونوکې یاد واکسین ترلاسه کړي(خو په وینه کې د انتي باډې تر اندازه کولو وروسته)

درملنه

### کله چې انسان د کوم حیوان په واسطه وداړل شي:

۱-باید ژر ژره ټپ په اوبو و صابون سره ۱۰-۱۵ دقیقو پورې ومینځل شي. که صابون ته لاس رسي نه وي یوازې په اوبو ومینځل شي. دا چاره د لیوني سپي د ناروغي پر وړاندې د لومړنیو مرستو یو مهم ګام دی.

۲-که چېرې ټپ رامنځته شوی وي، ټپ باید د ۷۰ سلنې الګول ایتانول یا پایوډین-آیوډین سره په بشپړه توګه پاک شي.

۳-ناروغ باید ژر تر ژره د درملنې لپاره روغتیایي مرکز ته ولېږل شي.

### هغه فکتورونه چې د لیوني سپي د ناروغي په پرمختګ کې اغېزمن دي:

۱-د اخته کېدو ډول
۲-د داړلو شدت
۳-د لېږدوونکي حیوان ډول
۴-د ویروسونو کچه
۵-د دالړ شوي سیمې د معافیتي سیستم څرنګوالی
٦-د داړل شوي ځای موقعیت- د سر او غاړې ټپونه او په هغو ځایونو کې چې ډېر عصبي ریښې شتون لري په دې صورت کې لږ وخت لرو او لامل یې هم عصبي انساجو ته د ویروس نږدېوالی دی.

په سپیو کې د لیوني سپي د ناروغي نښې:

وېره، بریدګر حالت، سخت بلع، ګیج کېدل، خوله اچول او د غېږو نارملو شیانو لکه لرګي او نورشیان خوړل، غېر مستقیم او یوې خواته منډې وهل، د غږ بدلون، بد ډول عوعو کول(د غږ ویستلو توان نه لري)

د خولې په زاویو کې د لاړو زیاتوالی

په انسان کې د لیوني سپي د ناروغي نښې:

د داړل شوي برخې درد او ښارخت

تبه، کسالت، د سردرد چې له ۲-۴ ورځو دوام کوي

هایدرو فوبیا(له اوبو څخه ډار)

د غږ، رڼا او هوا نه تحمل

غوسه، تخریش او افسرده ګي

د فعالیت کموالی

د لیوني سپي ناروغي چې د لیوني سپي د کلاسیک ویروس له لارې رامنځته شي، نږدې سل په سلو کې مر ګو نی دی او هیڅ درمل نه لري.

### ښه شوي کسان:

د تاریخ په اوږدو کې یوازې شپږ کسان له ربیس څخه ژوندي وتلي دي.

په ۲۰۰۴ ام کال کې د امریکا متحده ایالاتو په ویسکانسین کې د لیوني سپي له ناورغي څخه د یوې ۱۵ کلنې انجلۍ رغېدل لومړنۍ پېښه ده، چې راپور شوې ده. د ۲۰۱۱ام کال د جون په ۱۲ مه د کالفورنیا د هومبولټ ښار اوسیدونکی اته کلنه انجلۍ په امریکا کې دریېم کس و چې ربیس ویرورس پر وړاندې مقاومت وکړي او ژوندی پاتې شي.

سپی او لېوه: بریدګر حالت او د خولې لاړې وتل(په نږدې یوه اوونۍ کې حیوان له منځه ځي)

اوښ: له حده زیاد کاړه واړه کېدل

ګېدړ–پشو: نوازش ته لېوال تیا لري، ګوتې داړي

غوا: د غوجلې لرګي او د خپلو خوړو لوښې داړي

وزه او وري: خپل سرو په دېوال او یاستون پورې نښلوي او زور وهي،

### هغه هېوادونه چې ربیس په کې له منځه تللی دی:

په ډېرو هېوادونو کې ربیس له منځه تللی او یا ددې کار په ترسره کول کې دي. په دې لومړل کې هغه هېوادونه دي، چې په ۲۰۰۹ام کال کې د ربیس هیڅ کومه پېښه په کې نده شوې.

• آفریقا: کیپ ورد، لیبیا، موریس، مراسم، سایوتومه و پرنسیپ، او سیشل،
• امریکا: برمودا، سنت پیر و میکلون، آنتیګوا و باربودا، آروبا، باهاما، باربادوس، جزایر کیمن، دومینیکا، جزیره ګوادلوپ، جاماییکا، مارتینیک، مونتسرات، آنتیل هلند، سنت کیتس (سنت کریستوفر) و نویس، سنت لوسیا، سنت مارتین، سنت وینسنت و ګرنادین، ترکس و کایکوس، او جزایر ویرجین (بریتانیا او متحده ایالات)،
• آسیا و خاورمیانه: هانګ‌کانګ، جاپان، کویت، لبنان، مالزیا، قطر، سنګاپور، عربي متحده امارات او ایران،
• اروپا: اتریش، بلژیک، قبرس، د چک جمهوریت، دنمارک، فنلاند، جبل‌الطارق، یونان، ایسلند، ایرلند، جزیره من، لوکزامبورګ، هالند، ناروی، پرتغال، اسپانیا (له سیوتا و ملیلیه پرته)، سویدن، سوییس او بریتانیا،
• استرالیا (اقیانوسیه): استرالیا، د کوک جزایر، فیجي، پلینزي، فرانسه، ګوام، هاوایي، کیریباتي، میکرونزي، نوی کالدونیا، نیوزیلند، د ماریانا شمالي جزایر، پالایو، پاپوآ ګینه نو، ساموآ، او وانواتو.

### روغتیا یي پیغام

کورني او وحشي حیواناتو سره له اړیکو ډډه وکړئ. هڅه وکړئ، چې د حیوان ځانګړتیاوې او کړنې وپېژنۍ او تل مو باید پام وي، چې غیر معمول او حیرانوونکي کړنې ونه کړي.

# د پکتیا د شاتو سږني تولید نږدې ۹۰۰ ټنه ده

د کرنې، اوبولګولو او مالداری وزارت له خوا په هېواد کې د شاتو مچیو د وضعیت او کاروبار د ښه کولو د هلوځلو په پایله کې په پکتیا ولایت کې د شاتو مچیو د روزنې وضعیت په بې ساري توګه مخ په ښه کېدو ده، شمېرې ښيي چې په دې ولایت کې د شاتو مچیو شاوخوا ۴۵۰ واړه او لوی فارمونه شته، چې د شاتو د تولید سږني کچه يې نږدې ۹۰۰ ټنو ته رسېدلې ده. د پکتیا د څارویو روزنې او روغتیايي چارو آمر محمد کبیر اسلیمي وايي، چې د پکتیا د ولایت په کچه د شاتو مچیو ۴۵۰ فارمونه فعالیت لري، چې له یادو فارمونو څخه سږکال ۹۰۰ متریک ټنه شات تولید شوي دي.

د ښاغلي اسلمي په خبره، د پکتیا د شاتو په شاوخوا ۴۵۰ فارمونو کې د شاتو له ۹۵ زرو څخه تر ۱۰۰ زره صندوقه مچې روزل کېږي. یادې مچې ډول ډول شات تولیدوي، چې له دې ډلې خورا مشهور يې شونشوبی، لاچې، سپېرکی او سنځله دي، چې په دغه ولایت کې خورا ډېر تولید او مینه واللري.



د پکتیا د کرنې ریاست چارواکي وايي، چې ددې ولایت د شاتو مچیو د صنعت د پراختیا په پار پر فارم لرونکو د شاتو مچیو وېش، د شاتو مچیو روزنې او د صندوقونو د لېږد رالېږد په هکله فارم لرونکو ته عامه پوهاوی او پر فارم لرونکو د ناروغیو او افتونو ضد درملو وېش هغه چارې دي، چې سږکال تر سره شوې.

یاد ولایت د شاتو مچیو روزلو او شاتو تولید لپاره مناسبه هوا او چاپېریال لري چې دا ددې لامل شوی، چې په دې ولایت کې د شاتو مچیو روزلو صنعت ورځ تر بلې وده وکړي.

د پکتیا د کرنې ریاست چارواکي وايي هلې ځلې کوي، چې د شاتو مچیو د روزنې په برخه کې خلکو ته نورې آسانتیاوې هم برابرې کړي ترڅو په هېواد کې د شاتو تولیدات ډېرشي، چې له یوې خوا د شاتو روزنکو عواید ډېر شي او له بلې خوانه هېواد له دې پلوه پر ځان بسیا شي.

# د بلخ د شاتو سږني تولید ۱۵ ټنو ته ورسېد

د بلخ د کرنې، اوبولګولو او مالداری ریاست چارواکي وايي، چې ددې ولایت د شاتو د سږني تولید کچه ۱۵ متریک ټنو ته رسېدلې ده.

د بلخ د کرنیزو چارو آمر ذبیح الله زوبین وايي: «له نېکه مرغه د بلخ دشاتو سږني تولید ۱۵ ټنو ته رسېدلې ده، دا په داسي حال کې ده، چې دتېرکال کچه ۱۲ ټنه وه. دا شمېره د تېرکال په پرتله لس سلنه زیاتوالی ښیي.»

ښاغلی زوبین وويل، چې د بلخ د شاتومچیو د روزونکو شمېر ۴۵۶ تنو ته رسیږي او د شاتو مچیو روزنې په برخه کې په درېیو تولینو کې فعالیت لري. د هغه په خبره، د بلخ ولایت د شاتومچیو د صندوقونو شمېر ۱۸۹۷ ته رسیږي.

د چهارکنت، شولګرې، دولت آباد، نهرشاهي، شورتپه، خلم، بلخ، دهدادي او چمتال ولسوالی د بلخ ولایت د شاتو اصلي تولیدوونکي سیمې دي.



ښاغلی زوبین زیاته کړه: «د شاتو بیې په هغو ګلونو تړې ده، چې د شاتو مچې تري تغذیه کوي. د بېلګې په توګه د چهارکنت ولسوالی د سمسول ګل تولید شوي شات کیلو په زر افغانۍ، د پنبې دګل تولید شوي شات کیلو په ۷۰۰ افغانۍ او د دهدادي ولسوالی د شوتلو ګل تولید شوي شات کیلو په ۵۰۰ افغانۍ خرڅیږي.»

د بلخ شات تر ډېره د سیمې په بازارونو، د ښار مارکېټونو او کرنیزو نندارتونونو کې خرڅیږي. د شاتو یوتن روزونکی ذبیح الله وايي، چې د بلخ د کرنې ریاست د شاتو مچیو د وېش ترڅنګ دوی ته تخنیکي سلامشورې ورکوي، د نوي نسل د تولید، د آفتونو او ناروغیو د مخنیوي په موخه روزنیزې برنامې هم په لاره اچوي.

# د کونړ د شاتو سږني تولید څه باندې ۳۳ ټنو ته رسېدلی دی

د کونړ د کرنې، اوبولګولو او مالداری ریاست وايي، چې په کونړ ولایت کې د شاتو مچیو د روزنې وضعیت په بې ساري توګه مخ پر وده ده، شمېرې ښيي چې په دې ولایت کې د شاتو مچیو شاوخوا۶۳ واړه او لوی فارمونه شته دي، چې د شاتو د تولید سږني کچه يې نږدې۳۳.۶ ټنو ته رسېدلې ده.

د کونړ د مالداری خدمتونو او څارویو د روغتیا چارو امر ګل رحمن حنانزی وايي، چې د یاد ولایت په کچه د شاتو مچیو ۶۳ فارمونه فعالیت لري، چې له یادو فارمونو څخه سږکال ۳۳.۶ متریک ټنه شات تولید شوي دي.

د ښاغلي حنانزي په خبره، دکونړ د شاتو په شاوخوا ۶۳ فارمونو کې د شاتو مچیو له یوزرو او ۹۰۰ څخه تر دوه زره صندوقه مچې روزل کېږي. یادې مچې ډول ډول شات تولیدوي، چې له دې ډلې خورا مشهور يې شونشوبی، لاچې، کریچې ګل، سپېرکی، شړشم ګل، شفتل ګل او



پلوځه دي، چې په دغه ولایت کې خورا ډېر تولید او مینه وال لري.

د کونړ د کرنې ریاست چارواکي وايي، چې ددې ولایت د شاتو مچیو د صنعت د پراختیا په پار د فارمدارانو منظمه ټولنه جوړول، پر فارم لرونکو د شاتو مچیو وېش، د شاتو مچیو روزنې او د صندوقونو د لېږد رالېږد په هکله فارم لرونکو ته عامه پوهاوی او پر فارم لرونکو د ناروغیو او افتونو ضد درملو وېش هغه چارې دي، چې سږکال تر سره شوې.

یاد ولایت د شاتو مچیو روزلو او شاتو تولید لپاره مناسبه هوا او چاپېریال لري  او دا ددې لامل شوی، چې په دې ولایت کې د شاتو مچیو روزلو صنعت ورځ تر بلې وده وکړي.

هفته‌نامه دهقان

صاحب امتیاز: وزارت زراعت، آبیاری و مالداری
(۰۷۶۶۴۰۰۶۰۰ - akbar_rostami10@yahoo.com)
مدیر مسوول: سید نورالعین ۰۷۹۳۴۰۵۵۹۹ - snoorulainn@gmail.com
دبیران: ظفرشاه رویی، جمعه‌گل اشرفی
گزارشگران: گیتی محسنی، شفیق‌الله نوری، شجاع‌الحق نوری
نعیم رضایی، حشمت‌الله حبیبی، مینا افسری
عبدالواسع خان‌زاده، محمد تمیم صدیقی و نور الله پتمن
برگ‌آرایی: بشیر رسا

نشانی برقی: Public.relation@mail.gov.af
ویب‌سایت: www.mail.gov.af
فیس‌بوک: وزارت زراعت، آبیاری و مالداری / د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت
تویتر: @MAIL_AF
شماره‌های تماس: ۰۷۶۶۴۰۰۶۰۰ ۰۷۴۸۰۰۹۱۳۷
آدرس: جمال مینه، کارته سخی، کابل، افغانستان

DEHQAN WEEKLY

STANDARD AGRICULTURE: ACCESS TO GLOBAL MARKET

No: 121 ▪ Dehqan Weekly ▪ Saturday ▪ December 19th ▪ 2020


# کارکردهای امسال وزارت زراعت در بادغیس




حشمت‌الله حبیبی
گزارش‌گر


ریاست زراعت ولایت بادغیس می‌گوید که امسال، در قالب پروژه‌ی مدیریت محصولات زراعتی وزارت زراعت، در این ولایت ساخت ۱۰۰ ذخیره‌خانه پیاز، ۲۵۴ ذخیره‌خانه کچالو، پنج سردخانه صفر انرژی سیب و ساخت ۴۰ کشمش‌خانه عصری به هزینه‌ی ۲۱۲ میلیون و ۳۳۸ هزار و ۸۰۶ افغانی تطبیق شده، که در حدود بیش از ۹۰ درصد کار آن‌ها پیش رفته و عده‌ای از این ساختمان‌ها آماده بهره‌برداری‌اند.

پروژه‌ی ملی باغداری و مالداری وزارت زراعت آبیاری و مالداری در این ولایت، ۵۰ هکتار باغ میوه ساخته و ۳۰ هکتار باغ کهنه را در ولسوالی‌های آب‌کمری، مقر، قادس و قلعه نو مرکز ولایت، احیا کرده است. ۲۰۳۰ جریب باغ پسته برای ۴۱۰ نفر باغدار و علاقه‌مند ساخته و ۴۴۹ جلسه‌ی آموزش دهقانان در مزرعه را برای دهاقین برابر با هر فصل راه‌اندازی کرده است. علاوه بر این، برای شماری از دهقانان تخم هینگ (یا انغوزه) توزیع شده و ۷۲ هکتار زمین برای دهاقین هینگ کشت شده است.

هم‌چنان یک کلینیک سیار نباتی برای کنترل امراض نباتی توزیع با ۵۰ بسته دوای بیولوژیکی نباتی، جهت کنترل آفات و امراض نباتی در این ولایت ایجاد شده است.

همین طور ۳۰ هزار مرغ تخم‌گذار برای سه هزار خانم بی‌بضاعت در قلعه‌ی نو مرکز و ولسوالی‌های قادس، مقر، آب‌کمری ولایت بادغیس توزیع شده است.

با شش واحد ساحه‌ای وترنری قرارداد شده است تا خدمات ترویجی را برای مردان مالدار از طریق تدویر برنامه‌های آموزشی، ارایه کنند. هم‌چنان قرارداد با ۱۳ نماینده‌ی زن ترویجی، جهت ارایه‌ی خدمات ترویجی مالداری و راه‌اندازی برنامه‌های آموزشی برای خانم‌های مالدار، از فعالیت‌های دیگر پروژه‌ی ملی باغداری و مالداری در این ولایت است.

در بادغیس همین طور امسال پنج هزار کیلوگرام پیاز زعفران برای زعفران‌کاران این ولایت توزیع شده است. بر علاوه ۱۳ مزرعه‌ی نمایشی برای ۱۳ دهقان در ساحه بیش از چهار جریب زمین در قلعه‌ی نو مرکز ولایت و ولسوالی‌های قادس، مقر و آب‌کمری به ارزش ۴۰۲ هزار افغانی ساخته شده است. هم‌چنان ۷۰ دهقان، که تن آنان بانوان‌اند در بخش‌های تولید، پروسس و بازاریابی زعفران آموزش دیده‌اند.

مبارزه علیه آفات و امراض نباتی، تطبیق کمپین مجادله علیه ملخ‌های مضر در ساحه ۱۷ هزار و ۴۰۴ هکتار زمین در ولسوالی‌های قادس، جوند و بالامرغاب، با مصرف نمودن پنج هزار و ۹۵۲ لیتر دوای کیمیایی صورت گرفته است. در همین حال کمپین مجادله میخانیکی علیه کفشک گندم در ساحات قلعه‌ی نو مرکز ولایت و ولسوالی‌های آب‌کمری، قادس، مرغاب و جوند با توزیع شش هزار و ۱۰ حلقه تور حشره‌گیری برای دهاقین و راهنمایی دهقانان تطبیق شده که در نتیجه شش هزار هکتار زمین از وجود کفشک پاک‌سازی شده است. به همین منوال تطبیق کمپین میخانیکی و کیمیایی علیه مگس خربزه در قلعه‌ی نو مرکز و ولسوالی‌های آب‌کمری، قادس و مقر عملی شده است. در این کمپین یک هزار و ۵۰۰ خریطه تکه‌ای، ۲۰۰ غربیل و بیلچه و ۸۰ کیلوگرام پودر نابودکننده، و ۱۰۰ لیتر طعمه‌ی زهری ساخته شده و برای دهاقین پالیزکار توزیع شده است که در نتیجه ۴۰۰ هکتار زمین از وجود مگس خربزه در امان نگه داشته شده است. این کمپین به صورت مجموعی ۵۷۵ هزار افغانی هزینه برداشته است.

تطبیق کمپین مبارزه با تب کانگو، به منظور کنترل و جلوگیری از سرایت مرض تب کانگو، دواپاشی ۳۴۰ طویله و استعمال دوا بر ۷۹ حیوان دارای پرازیت کنه و آموزش ۴۹۰ نفر مالدار در زمینه‌ی آگاهی‌دهی از مرض تب کانگو و جلوگیری از گسترش آن از دیگر فعالیت‌ها در بادغیس استکه در کل بودجه برنامه‌ی ملی انکشاف مالداری و صحت حیوانی در این ولایت مبلغ ۵۱۶ هزار و ۵۴۰ افغانی به مصرف رسیده است.

پروژه احیا و حفاظت از جنگل‌های طبیعی به ارزش دو میلیون و ۴۲۸ هزار و ۸۰۰ افغانی در این ولایت تطبیق شده است. این پروژه شامل حفر ۱۲۰ هزار حلقه چقُرک، خریداری ۱۷۶ کیلو گرام بذر پسته، بذر مستقیم پسته در چقرک‌های حفر شده، آبیاری، ملچ و خیشاوه و حفاظت ساحات احیا شده بوده است. مستفیدشونده‌گان مستقیم از تطبیق پروژه ۱۴۴ نفر دهقان اند. چهار جریب زمین قوریه به هزینه ۲۶۸ هزار و ۱۶۸ افغانی ساخته شده است و بر علاوه در این ولایت سه پروژه آبیاری سولری و یک پروژه گابیونی به ارزش ۳۱۱ میلیون و ۹۹۰ هزار و ۹۴۷ افغانی در ولسوالی بالامرغاب جهت آبیاری زمین‌های زراعتی تطبیق شده است.

در بخش نباتات تیلی، انتخاب ۱۳ نفر دهقان در بخش‌های شرشم، زغر، ممپلی، گل آفتاب پرست و کنجد در ولسوالی‌های قادس، مقر، آب‌کمری و قلعه نو مرکز ولایت در ساحه ۱۳ جریب زمین به ارزش ۸۵ هزار و ۴۰۰ افغانی و هم‌چنان آموزش ۹۰ نفر دهقان درباره‌ی کشت، آبیاری، جمع‌آوری شرشم، زغز، ممپلی و گل آفتاب‌پرست و کنجد صورت گرفته است.

ولایت بادغیس از ولایت‌های شمال‌غربی کشور است. اقتصاد این ولایت عمدتاً بر محصولات زراعتی پایبند است. زراعت آن به شکل للمی بوده، حاصلات زراعتی آن گندم، جو، جواری، نخود، زیره، کنجد، تربز، خربزه و غیره محصولات می‌باشد. پیشه دوم مردم این ولایت مالداری و پرورش گوسفند نوع قره‌قل است که از همین مدرک همه ساله گوسفند، پوست قره‌قل، پشم، کرک و قروت به سایر



# د وطني مالټو د تولید زیاتوالی ددې محصول د وارداتو د کچې د ټیټېدا لامل

په ختیځ زون کې ننګرهار او کونړ د افغانستان د سټرسو لوی تولیدونکیولایتونه دي، چې هوا او ځمکه یې د سټروسو نیالګیو ته جوړه او مناسبه ده او په یادولایتونو کې د سټروسو «مالټې، نارنج او لیمو» بڼونه ډېر دي.

د ننګرهار او کونړ ولایتونو د کرنې ریاستونوچارواکي وایي، چې په یادو ولایتونو کې په زیاته اندازه د مالټو بڼونه جوړ شوي دي چې سږ کال یې د مالټو د تولید کچه نږدې شپږ زره او ۶۰۰ ټنو ته رسیږي.

د چارواکو په خبره، ننګرهار کې د مالټو په حاصلاتو کې لس سلنه زیاتوالی راغلی دی، چې ورسره سږ کال د ننګرهار ولایت د مالټو د حاصلاتو کچه څه باندې پنځه زره او ۶۰۰ ټنو ته راسیږي.



د ننګرهار په ولایت کې د مالټو یوزر او ۳۵۰ هکتاره بڼونه شته دي. ددې بڼونو ۸۰۰ هکتاره یې د ننګرهار په مرکز او ولسوالیو کې دي او ۵۵۰ هکتاره یې د ننګرهار کانال اړوند بڼونه دي.

په همدې حال کې په کونړ کې هم د مالټو د حاصلاتو کچه لس سلنه زیات شوي دي. تېرکال د کونړ د مالټو حاصلات ۸۹۸ ټنه وه خو سږکال ۹۸۸ ټنو ته رسېدلي دي.

د افغانستان ختیځ ننګرهار، لغمان او کونړ ولایتونه مدیتراني اقلیم او د مالټو، نارنج او لیمو بڼونو لپاره مناسبه هوا چې هر کال له یادو ولایتونو څخه په زرګونه ټنه د سټرسو حاصلات راټولیږي.